د افغانستان اسلامي امارت
د ارشاد، حج او اوقافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو
ټولو خطیبانو ته په دواړو ملی ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږی

---

۲۰/ جمادي الثانية /۱۴۴۴ هـ ق موافق به ۲۳/ جدي/۱۴۰۱هـ ش

# د ټولنې دکامیابۍ او پرمختګ اسباب

الحمد لله على فضله واحسانه حمداً كثيراً طيباً مباركاً،فيه وأشهد أن لاإله إلا الله وحده لا شريک له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين، وسلم تسليماً كثيراً.

هغه چې فرد، فامیل او ټولنې ته ډیره ضروري او حیاتي ده هغه کامیابي او پرمختګ دی.

کامیابي او پرمختګ تنها فردي او شخصي اړتیا نه ده ؛ بلکې د ټولنې د ضرورتونو له جملې څخه  حسابیږي .

مسلمان تل دا ارزو لري چې دکائناتو خالق ورڅخه راضي وي او دا خپله کامیابي ګڼي او همدا راز  دهر فرد او هرې بشري ټولنې دا ارمان وي چې په ژوند کې تل موفق او کامیاب وي او په پوره سوکالۍ، عزت او خوشحالۍ کې ژوند وکړي او د ژوندانه اړتیاوي یې هم پوره وي او  ټول سهولتونه ورته میسر او مهیا وي.

نن ورځ مونږ د ټولنې دکامیابۍ او پرمختګ اسبابو په اړه بحث کوو چې دټولنې د کامیابۍ او پرمختګ ځینې اسباب په لاندې توګه دي.

۱- په الله جل جلاله باندې کلک ایمان او دهغه په کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو عمل کول.

د ټولنې حقیقي کامیابي په الله تعالی باندې ایمان لرل او دهغه دکتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو په اتباع او پیروۍ کې ده.

کامیابه ټولنه د کامیابه اشخاصو او افرادو څخه تشکلیږي او کامیاب انسان هغه دی چې په الله تعالی کلک ایمان ولري او خپل ژوند په اسلامي شریعت باندې برابر کړي.

دا مطلب په قرآن کریم کې په ګڼو آیتونو کې ذکر شوی دی.

الله جل جلاله فرمایی :کوم خلک چې په غیبو ایمان لري او لمونځ قائموي او زکات ورکوي او په نازل شوو کتابونو ایمان لري همدوې کامیاب دي.{أُولَئِكَ عَلَى هُدىً مِنْ رَبِّهِمْ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُون} البقرة: (٥)

ترجمه:- دغه خلک د خپل رب له طرفه په راغلي هدایت باندې دي او همدغه خلک پوره کامیاب دي.
الله تعالی فرمایلي دي:{فَأَمَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحاً فَعَسَى أَنْ يَكُونَ مِنَ الْمُفْلِحِينَ}القصص:(٦٧)
ترجمه:- نو پاتې شو هغه کس چې توبه وباسي او ایمان راوړي او نیک عمل وکړي نو امید دی چې دغه به له نجات موندونکو څخه وي.
په یو بل آیت کریمه کې راځي:{قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ}المؤمنون:(١)ترجمه: یقینا مؤمنان کامیاب شول.

په یو بل ځای کې راځي چې کامیاب خلک هغه دي چې په نیکیو امر کوي او له بدیو څخه منع کوي .

{وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ}آل عمران: (١٠٤)

ترجمه:- او لازم ده چې په تاسو کې دې یوه داسې ډله وي چې د خیر طرف ته بلنه کوي او دنیکۍ حکم کوي او له بدۍ نه منع کوي او همدغه خلک پوره کامیاب دي.

په یو بل مبارک آیت کې راځي: {فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ }آل عمران: (١٨٥)

ترجمه:- څوک چې لرې ویستلې شو د اور څخه او داخل کړی شو جنت ته بیشکه چې کامیاب شو.

٢- د الله تعالی طاعت او عبادت او د الهي اوامرو په ځای کول او د منهیاتو څخه پرهیز:

د ټولنې کامیابي او پرمختګ د الله تعالی په طاعت او د هغه په عبادت کې ده او دالله تعالی د اوامرو په منلو او له منهیاتو څخه ځان ساتلو کې کامیابي نغښتې ده. لکه چې الله تعالی هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی دی او نیک عملونه یې کړي دي د نورو وعدو ترڅنګ یې د کامیابۍ زیرې هم ورکړی دی. الله جل جلاله فرمایلي دي: {وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ} النور:(٥٥)

ترجمه:- الله تعالی وعده کړې د هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی له تاسو څخه او نیک عملونه یې کړې چې خامخا هرو مرو به دوی ته په ځمکه کې خلافت ورکوي لکه چې هغو کسانو ته یې خلافت ورکړی ؤ چې له دوی نه مخکې وو او خامخا ضرور به دوی ته ددوی هغه دین ثابت ( او قوي) اوګرځوي چې هغه (الله) ددی لپاره غوره کړی دی او خامخا ضرور به دوی ته ددی له ویرې نه پس امن په بدل کې ورکړي چې دوی به زما عبادت کوي او زما سره به هیڅ شی نه شریکوي او هرڅوک چې ددغو انعاماتو بعد کافر شو نو همدغه کسان فاسقان دي.

په دې ایت کریمه کې لکه چې ورڅخه معلومیږي الله تعالی هغه کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی او نیک اعمال یې کړي دي دری وعدې کړي دي لومړی د زمکې خلافت، دوهم ددین غلبه ، دریم د امنیت تحقق او د ویرې او ترس له منځه تلل. چې دا دری واړه د کامیابۍ اصلي ټکي دي.

۳- په خپل منځ کې یو له بل سره مرسته او همکاري:-

د ټولنې د کامیابۍ او پرمختګ بل سبب دادی چې د ټولنې غړي او افراد یو بل سره د ژوند په کارونو کې مرسته او همکاري کوي.
په کومه ټولنه کې چې همکاري او مرسته موجود وي هغه ټولنه تل خوشحاله وي او مخ په وړاندې ځي. همدا راز هغه ټولنه کامیابه ده چې افراد یې د خپل نظام سره مرسته کوي.
الله تعالی په مرسته کولو امر کړی دی.{وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلا تَعَاوَنُوا عَلَى الأِثْمِ وَالْعُدْوَانِ} المائدة: (۲)
ترجمه:- او تاسو یو له بل سره په نیکۍ او پرهیزګارۍ کې مدد کوئ او دګناه او د ظلم په کارکې د یو بل مدد مه کوئ.
په حدیث شریف کې د مسلمان ورور سره مرسته کول زیات ستایل شوي دي.
پیغمبر علیه السلام فرمایلي دي: (واللهُ في عَوْنِ العَبْدِ مَا كَانَ العَبْدُ في عَوْنِ أَخِيهِ).صحیح مسلم
ترجمه:- او الله تعالی د بنده په کومک کې وي ترڅو پورې چې بنده د خپل ورور په مرسته کې وي.
٤-عدالت او مساوات:-

د ټولنې د کامیابۍ او پرمختګ بل سبب دادی چې په ټولنه کې عادل نظام حاکم وي او دټولو خلکو حقوق په کې خوندي وي او دټولنې ټول وګړي د قانون په وړاندې مساوي حقوق ولري او قانون په خپل او پردي، دوست او دښمن باندې یوشان تطبیق شي.

عدالت د ټولنې د پرمختګ راز دی او په کومه ټولنه کې چې عدالت پیاده نه وي هلته ظلم، نابرابري او استبداد حاکم وي او په کومه ټولنه کې چې د ظلم او استبداد حاکم وي هلته کامیابي او پرمختګ ناشونی دی؛ ځکه کومه ټولنه کې چې په ظلم او استبداد ولاړه وي هلته هرج او مرج وي، اختلافات وي چې دا کارونه د پرمختګ مخه نیسي.
الله جل جلاله فرمایلي دي:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ}المائدة: (۸)
ترجمه:- ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی تاسو دالله لپاره (په حق باندې ) مضبوط ولاړ اوسئ چې په انصاف سره ګواهي کوونکي یی او دیو قوم بغض دې تاسو دیته راپورته نه کړئ چې تاسو عدل ونه کړئ عدل کوئ دا تقوا ته ډیر نږدې دی او له الله نه وویریږئ، بیشکه الله ښه خبر دی پر هغو کارونو چې تاسو یی کوی.
په یو بل آیت کریمه کې رازي:{وَقُلْ آمَنْتُ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنْ كِتَابٍ وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ}الشوری: (۱۵)
ترجمه: او ته ووایه ما پر هر هغه کتاب ایمان راوړی دی چې الله نازل کړی دی او ماته حکم راکړی شوی دی چې ستاسو په مینځ کې انصاف وکړم.

په یو بل آیت کریمه کې راځي:{وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُواْ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى} الانعام: (۱۵۲)
ترجمه:- او کله چې تاسو خبره کوئ نو عدل کوئ اگرچه هغه دخپلولی والا وي.
۵-کار او کسب کول او د کاري فرصتونو رامنځ ته کول:-

د ټولنې د کامیابۍ او پرمختگ بل سبب دادی چې د ټولنې افراد کار ته تشویق شي کار وکړي او د ټولنې د اړتیا وړ توکي تولید کړي خپله هم ددې مدرک څخه گټه ترلاسه کړي او ټولنه هم د نورو د احتیاج څخه وساتي.

د قرآن کریم دا آیت شریف مونږ کار او کسب ته هڅوي.{وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا} القصص: (۷۷)

ترجمه:- او ته په هغه (مال) کې چې تاته الله درکړی دی دآخرت کور (جنت) لټوه او له دنیا نه خپله برخه مه هیروه.
امام محمد رحمه الله فرمایي: کسب د پیغمبرانو لاره ده او مونږ ته امر شوی دی چې په هغوی پسې اقتداء وکړو. [کتاب الکسب]
دولت ته هم په کاردي چې د ټولنې افرادو ته کاري فرصتونه ایجاد کړي، کارخانې جوړی کړي، د کار او کسب لپاره ورته زمینه مساعده کړي ترڅو د ټولنې د کامیابۍ او پرمختگ لپاره لار همواره شي.
اسلامي امارت د افغانستان د کامیابۍ او پرمختگ لپاره لاس په کار شوی دی او زیاتې کاري فرصتونه یې ایجاد کړي دي لکه د قوش تیپې پروژه چې تقریبا ۵۰۰۰ کسانو ته په کې په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه مساعد شوی ده او د وطن په پرمختگ کې مهم گام بلل کیږي. همدا راز په دې وروستیو ورځو کې د یو چیني کمپنۍ سره د نفتو د استخراج په موخه قرار داد لاسلیک شو چې تقریبا ۳۰۰۰کسانو ته دکار زمینه برابر شوی ده او امید لرو چې په راتلونکو دری کلونو کې به خارج ته د نفتو صادرات ولرو. همدا راز ښاروالیو له خوا مختلف ترقیاتي او اعماري کارونه ترسره شوي دي چې د هیواد د ترقۍ په لور مثبت قدم دی. همدا راز په زرگونه متره سرکونه رغول شوي او احداث شوي دي.

په پام کې ده چې مونږ د کاسه یک هزار پروژې او د ټاپي د پروژې د عملي کارونو دپیل شاهد واوسو چې دا د هیواد د پرمختگ لپاره مهم گامونه دي. د ریل گاړي دپاټلۍ د غزولو او انکشاف لپاره دولت مختلف پلانونه په پام کې لري.

٦- علم او پوهه:-

د ټولنې د ترقۍ او پرمختگ لپاره بل مهم سبب علم او پوهه ده .

د علم د فضیلت لپاره دا بسنه کوي چې علم د الله تعالی صفت دی.

دا چې د علم په وسیله سره انسان خپل ځان او خپل رب پیژني او د علم په وسیله سره ټولنه د ژوند په هره برخه کې ترقي او پرمختگ کوي رسول الله صلی الله علیه وسلم د علم د زده کړی په اړه فرمایلي دي:(طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ).

سنن ابن ماجة ترجمه: طلب د علم فرض دی په هر مسلمان باندې.

آن تردې پورى چې علماء کرام وايې چې د علم زده کړه د نفلي عبادت کولو څخه غوره ده.

په يو حديث شريف کې راځي:(عنْ أَبِي أُمَامَةَ البَاهِلِيِّ، قَالَ: ذُكِرَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا عَابِدٌ وَالآخَرُ عَالِمٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَضْلُ العَالِمِ عَلَى العَابِدِ كَفَضْلِي عَلَى أَدْنَاكُمْ). سنن الترمذي

ترجمه:- رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د دوه کسانو ذکر وشو چې يو يې عالم ؤ او بل يې عابد ؤ . پيغمبرعليه السلام وفرمايل فضيلت د عالم پر عابد داسې دی لکه فضيلت زما پر يو ادنى کس د ستاسو څخه.

د هرې ټولنې ترقي او پرمختګ علم پورې مشروط ده او پرته له علم څخه دټولنې ترقي او پرمختګ ناممکن دی.

د اسلام ستره او روښانه پرمختګ -چې تاريخ ورباندې ګواه دی-، ددې امله ؤ چې هغوی علم له نګاه پر نورو برلاسي او قوي ؤ.

د حضرت عمررضي الله عنه د خلافت په موده کې د پيسو سکه رامنځ ته شوه ، په رسمي ډول بنديخانه رامنځ ته شوه، په عراق کې د کوفې او بصرې ښارونه آباد کړی شو. نهرونه او کانالونه ووېستل شو، په اداري برخه کې ديوانونه وليکل شو.

که چيرې د امويانو او عباسيانو په وختونو کې د مسلمانانو پرمختګ او ترقۍ ته وګورو،دا به مبالغه نه وي چې ووايو د ترقۍ او پرمختګ په برخه کې غربيان د مسلمانو علماؤ شاګردان دي او هره ساينسي فارموله لومړی مسلمانانو کشف او ايجاد کړی ده چې بيا وروسته ورته غرب يواځې انکشاف ورکړی دی. لکه ادريسي، فارابي، جابربن حيان، رازی ، ابن سينا، ابوبکررازی او داسې نور.

د همدې امله مسلمانان دعلم او پوهې په ډګر کې د نورو اديانو په پيروانو دومره مخکې او پياوړي وو لکه نن چې کفري نړۍ پر مسلمانانو برلاسې ده.

انسان د علم په وسيله سره هواء او فضاء ته وخوت، انسان د علم په وسيله په نړۍ کې ډول ډول اسانتياوې رامنځ ته کړی دي.

انسان په علم او ټکنالوجۍ سره وکولای شول چې د نقل او انتقال مختلف وسائل ايجاد کړي لکه موټری، ريل ګاړي، طياری او بحري کشتۍ چې ټول د انسان د هوساينې او خدمت لپاره دي.

انسان د علم په وسيله سره د صحت په برخه کې مختلف پرمختګونه وکړل او د صحت په برخه کې لوی انقلاب رامنځ ته شو، مختلف ډول مرضونه کشف شول او د مختلفو مرضونو لپاره مختلف ډول دواګانې او علاجونه ايجاد شول او دا سلسله دوام لري.

دعلم او ټکنالوجۍ په وسيله د انسان لپاره ورځني د کارولو وسائل رامنځ ته شو لکه يخچالونه، پکي، ايرکنډيشنونه اوداسې نور.

د علم په وسيله سره مختلف ډول کشفيات ترسره شو لکه د ځمکې د جاذبيت قوه، د ځمکې کروي توب نظريه، دهواء حالات معلومول او هوا وزن کول او د فزيک علم په واسطه انسانانو ډير څه وکړل.

د طاقت مصادر معلومول د علم په وسيله سره شوی دی.

**۷- د ټولنې امنيت:-**

امنيت د الله تعالی نعمت او د ټولنې د ترقۍ او پرمختګ لپاره اساسي او مهم سبب دی.
که چيرې په ټولنه کې امنيت نه وي ټولنه هيڅکله ترقي او پرمختګ نشي کولای، خو که چيرې ټولنه روحي او مادي امنيت ولري، کولای شي ټولنه د ژوند په هره برخه کې په آبادۍ او بيارغونه کې، په علمي او د ټکنالوجۍ برخه کې، په نظامي ډګر کې، په سياست کې، ولس ته دخدماتو په عرضه کې پرمختګ وکړي.
امنيت دی چې هر ډول پرمختګ او ترقۍ ته لار پرانيزي.
دا چې امنيت د بشري ټولنو د ترقۍ او پرمختګ مهم سبب دی؛ له دې امله الله تعالی امنيت څخه په قرآن کريم کې په مختلفو بڼو يادونه کړې ده.
الله تعالی فرمايې قريشو ته مې ددښمن د ويرې څخه امنيت ورکړی ؤ بايد چې ددې نعمت شکر وباسي او يواځې د يو الله جل جلاله عبادت وکړي. الله جل جلاله فرمايلي دي:{لِإِيلافِ قُرَيْشٍ. إِيلافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ. فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ. الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ}قريش: (٤)
ترجمه:- او له جهته د أُنس او الفت د قريشو له يو بل سره له جهته د أُنس او الفت ددوی په سفر د ژمي (کې يمن ته) او ( په سفر د) اوړي ( کې شام ته هرکال) نو ښايې چې بندګي وکړي دوی رب ددې کوټې ( کعبې) ته هغه ( رب) طعام خواړه يي ورکړي دي دوی ته په لوږې کې او امن يي ورکړی دی دوی ته له خوف ويری څخه.
امام ابن کثير ددې آيت په تفسير کې وايې: (ځوک چې دالله تعالی دا خبره ومني الله به يې په دنيا او اخرت کې په امنيت کې وساتي او ځوک چې دا الله دا حکم ونه مني الله تعالی به ورڅخه په دنيااو اخرت کې امنيت سلب کړي). [تفسير ابن کثير]
ابراهيم عليه السلام د امنيت د اهميت په وجه تر هرڅه لومړی اهل مکه وو لپاره د امنيت دعاء وغوښتله:{ وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَلَداً آمِناً }البقرة :(١٢٦)
ترجمه:- او کله چې ابراهيم-عليه السلام وويل: ای زما ربه! دا (ځای) امن ناکه ښار جوړ کړه.
امام رازي رحمه الله ددې آيت په تفسير کې فرمايې: په دې دعاء کې ابراهيم عليه السلام شروع د امنيت په نعمت کړی دی چې دا ددې دليل دی چې امنيت د ټولو نعمتونو او فايدو څخه لوی نعمت دی او ددين او دنيا ټول مصالح په امنيت پوری تړلي دي.[تفسير امام رازى]

د علماوو د يوکس څخه پوښتنه وشوه چې امنيت غوره دی او که صحت؟ هغه په ځواب کې وويل: چې امنيت غوره دی؛ ځکه که چيرې د کومې وزی خکر مات شي او هغه وتړل شي د وخت په تيريدو سره به هغه خکر روغ شي خو که چيرې کومه وزه د ليوه په خوا کې وتړل شي وزه به د ليوه د ويرې خوراک او څښاک پريږدي او ددی له امله مړه شي، ددې څخه معلوميږي چې د ويرې څخه حاصل شوی ضرر خطرناک دي تر زخم څخه.[تفسير رازى]

هرکله چې په ټولنه کې ځان ، مال،عقل، عزت او ابرو په امنیت کې وي په هغه ټولنه کې هر فرد کوښښ کوي چې خپل ځان ته غوره اینده جوړه کړي او نظام هم ددې فرصت لري چې د ولس لپاره غوره اینده وسنجوي او په اړه یې مؤثر ګامونه واخلي.
اسلام هر هغه بې نظمي، ګډوډي او مخالفتونه په کلکو ټکو غندي چې امنیت اخلالوي.
یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم عدي بن حاتم رضي الله عنه ته وفرمایل:(فَإِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ لَتَرَيَنَّ الظَّعِينَةَ تَرْتَحِلُ مِنَ الْحِيرَةِ حَتَّى تَطُوفَ بِالْكَعْبَةِ لَا تَخَافُ أَحَدًا إِلَّا اللهَ... قَالَ عَدِيٌّ فَرَأَيْتُ الظَّعِينَةَ تَرْتَحِلُ مِنَ الْحِيرَةِ حَتَّى تَطُوفَ بِالْكَعْبَةِ لَا تَخَافُ إِلَّا اللهَ).صحيح البخاري
ترجمه:- که چیرې طولاني شو پر تا ژوند خامخا ته به ووینې ښځه د حیرې له مقام څخه به راځي تردې پورې چې طواف به کوي له کعبې شریفې څخه، نه به ویریږي پرته له الله تعالی بل له هیڅا څخه...عدي بن حاتم رضي الله عنه فرمایې ماولید چې ښځه راځي د حیرې له مقام څخه تر دې پورې چې طواف به کوي د کعبې شریفې څخه، پرته له الله تعالی به بل له هیڅاڅخه نه ویریږي(د صحابه کرامو په زمانه کې).
د حق د لارې مجاهدینو دبرحقه مبارزي له امله نن ورځ په ټول افغانستان کې امنیت تأمین دي او دخلکو ځان ، مال او عزت ټول په امن کې دي او ددې زمینه برابره ده چې خلک په ډاډمنه فضاء کې کار وکړي ، سرمایه ګزاري وکړي ترڅو مترقي او پرمختللی افغانستان ولرو.
۸- د نظام شتون او د نظام څخه اطاعت او پیروي.

د هرې ټولنې لپاره د نظام شتون یوه حیاتي موضوع ده که چیرې نظام نه وي ټولنه پرمختګ نشي کولای.

همدا راز که چیرې د نظام د دستورونو او حکمونو اطاعت ونشي او هغه په ټولنه کې پیاده نشي بیا هم ټولنه کامیابۍ ته نشي رسیدلی. د ټولنې په ټولو افرادو فرض دي چې د مشروع نظام څخه هر اړخیز ملاتړ وکړي او د هغه دستورونه ومني او عملي یې کړي.

دا چې د ټولنې د پرمختګ او کامیابۍ لپاره د نظام شتون اړین دی او ورڅخه اطاعت فرض دی شریعت د اسلامي امیر بیعت واجب بولي او مخالفت یې حرام ګڼي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (مَنْ خَلَعَ يَداً مِنْ طَاعَةٍ لَقِيَ اللهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلاَ حُجَّةَ لَهُ ، وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ في عُنُقِهِ بَيْعَةٌ ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً )رواه مسلم.

ترجمه:- څوک چې وباسي لاس د امام د طاعت څخه مخامخ به شي د الله تعالی سره په ورځ د قیامت او دلیل به ور سره نه وي او څوک چې مړ شي او نه وي غاړه دده کې بیعت دامام مړ به شي د جاهلیت د مرګ په شان.